
لە ستری
هیوادلی
جگرێ
خەمخینی
داستانونە
ژبارە:
فرهاد ویار
1054

**له سترې هيوادنۍ جګړې څخه ځينې داستانونه**

**د بوريس پاله وی او د نورو ليکوالو د څو داستانونو لنډيز**

**دا داستانونه د فاشيزم د وينې څښونکي ديو په وړاندې د شوروي ولسونو د اتلوالۍ بيلګې ښکاره کوي.**

## موږ د شوروي خلك

هغه ۱۹ کلنه وه؛ آرامه او ضعيف بدنه. څيره يې د هلکانو په شان وه. زيړې او ځلانده سترګې يې په ښادۍ او حيرانتيا نړۍ ته کتلې. ښايسته جامې يې په ځان وى. د داسې انجلى ليدل، هغه هم دلته، جبهې ته نژدې، د پوځيانو په منځ کې چې زاړه کوټونه يې اغوستې ول، حيرانونکي وه.

د اګست آرامه ماښام و. موږ د خټين کور د سپين ديوال غاړې ته ناست وو. دې انجلى دا کلې، چې په کې قرارګاه وه، په ځيرتيا تر پام لاندې نيولى و. ټول شيان ورته عجيبه ښکاره کيدل. ناڅاپه زما خوا ته راستانه شوه او راته يې وويل:

- شايد فکر وکړئ چې زه ولې ټولو شيانو ته په دومره ليوالتيا ګورم! نه، تاسو په دې پوهيدلى نشئ! په دې هغه څوك پوهيدلى شي چې د ډيرې مودې لپاره د خپلو خپلوانو او دوستانو تر منځ نه وي، هغه څوك چې اړ شوى وي خپلې ټولې اړيکې پرې کړي! په دې هغه څوك پوهيدلې شي چې مجبوره شوى وي په وحشي نړۍ کې ژوند وکړي....

انجلى ته مې کتلې. څيره يې نوره هلکانو ته ورته نه وه. سترګې يې آرامه او هوډمنه ښکاره کيدې.

زه د دې انجلى په مخينه پوهيدم. دې پيغلې او تاندې انجلى د جګړې تر ټولو خطرناکه دنده تر سره کوله. هغه د اطلاعاتو اموره وه. په هغو ښارونو کې چې فاشيستانو به نيول، پاتې کيده. د دښمن له پټو نقشو به خبريده او موږ ته به يې ګزارش راکاوه. مستعار نوم يې «برى يوزا» و. هغه د يو نوميالي اوکرائيني پوهاند لور وه. په ماشومتوب کې موسيقي، سندرې او بهرنى ژبې زده کړى وى او په آسانى يې په اوکرائيني، روسى، فرانسوى او الماني ژبو خبرې کولى. جګړه چې پيل شوه خپلې پوهنتوني زده کړې يې خوشى کړى. او د نرسينګ د چارو زده کړه يې پيل کړه چې جبهې ته لاړه شي. خو دا دوره يې هم ونشو کړاى پاى ته ورسوي ځکه چې دښمن د هرې ورځې په تيريدو سره ښار ته رانژدې کيده. د جبهې خط د ښار شاوخوا و. ښايى له هغه ځايه تللى وى. پلار او مور يې له هغې وغوښتل چې ورسره لاړه شي. خو انجلى و نه منله. غوښتل يې مبارزه وکړي خو څرنګه بايد مبارزه وکړي؟ په ياد يې راغله چې په الماني ښه پوهيږي. د سيمې ګونديې کميټې ته لاړه. په ګونديې کميټې کې ټول په کار بوخت ول. پوځيان تلل او راتلل. تلفونونو زنګ ووهو، خو انجلى له هغه ځايه بهر راونه وتله.د منشي خوا ته لاړه او وې ويل چې په الماني په آسانى خبرې کولى شي او غواړي چې ورته يې يو جنګي مسووليت وسپارل شي. د سيمې د کميټې منشي د هغه سندونه وارزول او ترې پوښتنه يې وکړه:

- ته په الماني پوهيږئ؟

- بيخي لکه خپلې اوکرائيني ژبې په شان.

ورته يې وکتلې او وى ويل:

- ممکن دنده دې سخته او خطرناکه وي!

- قبلوم يې!

منشي يو چا ته تلفون وکړ:

- اورئ، یوه کسه مې پیدا کړی چې په کار مو راځي... هو، په الماني ښه پوهیږي. مور او پلار یې پیژنم. ښه خلك دي. اوس به ستا خوا ته درشي....

د سیمې د کمیټې منشي تلفون کیښود. د انجلی سترګو ته یې په ځیرتیا وکتلې او وې ویل:

ـ ډیر ښه، ته به زموږ له هغو ملګرو سره چې په ښار کې پاتې کیږي، کار وکړئ. شاید په دې پوهه نشئ چې څه به درپیښ شي. هره شیبه امکان لري چې فاشیستان پوه شي چې ته څوك یې او تا به ووژني.

- په دې پوهیږم. دا ټول قبلوم.

او په دې ډول، انجلی په ښار کې چې بالاخره د المانیانو تر نیواك لاندې راغی، پاتې شوه. هغې المانیانو ته وویل چې د یوې شتمنې کورنی لور ده او نه یې غوښتل چې خپل کور خوشې کړي او په ختیځ کې یو نامعلومه ځای ته لاړه شي. یو الماني جنرال د پروفیسر په لوي کور کې میشت شو. جنرال د کور د ښښتانه پیغله لور خوښه شوه؛ د شپې لخوا به دواړو پیانو غږوله، د «ګوته» شعرونه به یې په الماني ژبه ویل. جنرال، هغه د قرارګاه له نورو افسرانو سره آشنا کړه. اوس نو اغلې له هر هغه څه خبریده چې د المانیانو په قرارګاه کې به تیریدل. خو هیڅوك نه پوهیدل چې دا ښکلې انجلی هره اونی د هغو ښایسته جامو سره چیرې ځي. انجلی، ښکلې کوچنۍ لمري چتری، بکس او د «ماین کامپف ۱» × کتاب، چې جنرال ورته د ډالی په توګه ورکړی و، له ځان سره وړل. پیاده پیاده به د ښار څنډې ته تلله، د یوه موچي کور ته به ورننوتله، بوټان به یې له بکس څخه راویستل او موچي ته به یې ویل چې بوټان یې ورته وګنډې. کله به چې دواړه یوازې پاتې کیدل، ټول هغه څه به یې چې په قرارګاه کې لیدلي او اوریدلي ول، موچي ته به یې ویلی. انجلی، یوازې دلته، له موچي سره، چې اطلاعاتي مامور و، په ښکاره ویلی شول چې ژوند ورته د فاشیستانو په منځ کې څومره ستونزمن او کرکجن دی. دلته یې د موچي سره کولای شول چې ساده او له مینې ډکې خبرې واوري. انجلی به د خپلې کوچنۍ ځیرې سره بیرته ښار ته ستنیده.

په ښار کې به یې په خوشالی یوه لنډه الماني ترانه ویله. ښار میشتو به په کرکې او سپکاوي ورته کتلې. خو انجلی به غلې وه. هغې ټولو ته نشو ویل چې څوك ده، ولې دلته ده او د څه لپاره مبارزه کوي. د همدې لپاره کار یې ډیر زیات ستونزمن و.



خو «بري يوزا» پياوړي اعصاب درلودل او خپل رول يې په ښه ډول لوبو او کار يې ډير ګټور و، تر دې چې يوه ورځې بده پيښه رامنځته شوه. الماني جنرال «بري يوزا» ته د واده وړانديز وکړ. شپې د نشئې په حال کې د انجلی کوټې ته لاړ. انجلی غوښتل وتښتي خو وی نشو کړای. جنرال ويل چې المانيان نور مسکو ته نژدې دي او د شوراګانو حکومت پای ته رسيدلی او غواړي چې د انجلی سره المان ته لاړ شي. «بري يوزا» نور ونشو کړای منتظره پاتې شي. د جنرال تپانچه يې راکش کړه... څه شيبه وروسته د الماني جنرال تنه پر ځمکه پراته وه.

فاشيستانو وړپسې ټول ځايونه ولټول خو هغه يې پيدا نکړه. «بري يوزا» تري تم شوی وه. هغه د جبهې له کرښې تيره شوی وه. لږه موده وروسته، دلته په «خارکف» کې چې د المانيانو تر نيواک لاندې و، د «ارناوينر» په نامه يوه انجلی پيدا شوه. هغه ښکلې انجلی وه او ډيره ښه الماني ورته ياده وه. «ارناوينر» کيسه کوله چې پلار يې چې يو الماني توکمه و، له انقلاب مخکې ډير شتمن و. هغه يې له فاشيزم سره د ليوالتيا په ګناه بندي کړ. کله چې د «خارکف» الماني قومندان د هغه په تيره پوه شو، «ارناوينر» ته يې وړانديز وکړ چې د هغوې ژباړونکی شي.

او په دې ډول «بري يوزا» يوځل بيا د المانيانو په قرارګاه کې په کار بوخته شوه.

فاشيستان متوجې شول چې يو څوک د هغوې پټې نقشې روسانو ته ورکوي. خو هيڅ چا د يوې شيبې لپاره هم په «ارناوينر» شک ونکړ.

اوس نو «بري يوزا» په ډيرو پټو استنطاقونو، چيرې چې فاشيستانو د شوروی خلک شکنجه کول، شتون درلود. هغې بايد د مرګ دمخه د شورويانو خبرې ژباړلی وی او سپکې سپورې او سپکاوی يې اوريدلی وی. يوازې له هيواد سره مينه دې انجلی ته توان وربخښه چې دا کار تر سره کړي.

د شوروی ځواکونه «خارکف» ته نژدې کيدل.

وروستی او دروند آزمايښت د «بری يوزا» په تمه و. په دې اړه په خپله بری يوزا، د اګست مياشتې په دې آرامه ماښام کې راته څه داسې کيسه وکړه:

ـ حتماً تاسو پوهيږئ کله چې زموږ ځواکونه «خارکف» ته نژدې کيدل، فاشيستان څومره ډاريدل. هغوې کوښښ کاوه، هر څه يې چې کولای شول له ځان سره ويسي: د انځورګری تابلوګانې، د موزيم شيان، فرنيچر او... څه شيان به يې چې نه ويل. هلته نوره قرارګاه نه وه، بلکې د بازار بڼه يې نيولې وه. په ځانګړې توګه يې د شوروی هوايي ځواک په اړه ډيرې افسانې ويلی. ويلې چې له دالنی واستوک ۱** څخه يو ډول نوې الوتکې الوزي او روسان زرګونه ماشينونه لري! هره شپه به ټولو افسرانو تهکاوي ته پناه وړله، ان زه هم د دومره ډار څخه حيرانه کيدم:

ـ ښاغلی تورن. آيا واقعاً ټول وژل شوي دي؟ هغوې به بالاخره ما ووژني.

تورن سره د دې چې ډاريده خو ځواب يې راکړ:

ـ څه وايې پيغلې، المان ډير پياوړی دی!!...

او بيا يې راته ووېل چې ته دا چانس لری چې له ما سره په موټر کې المان ته لاړه شی.

یوه شپه یې زه د تورن کوټې ته وغوښتلم، تورن وارخطا و. د کوټې له یوې څنډې بلې څنډې ته تلو. ما ته یې وویل چې اوس یو ډېر مهم استنطاق مخې ته لري. په کوټه کې غیرعادي چمتوالی روان و، د میز پر سر شراب او میوه ایښودل شوی وو. تپوس مې وکړ:

ـ آیا بل جنرال راغلی دی؟

ـ هو، ډیر مهم، ډیر جالب! نن به یوه شو چې روسانو راته څه په پام کې نیولي دي!

یوهه شوم چې هغوی یو روسي افسر نیولی دی. څو شیبې وروسته یې تذکره دننه کوټې ته راوړه. تذکره یې د میز خوا ته کیښوده. الماني سرتیري د تذکرې شاوخوا ودریدل، خو تورن هغوی ته دستور ورکړ چې له کوټې ووځي. زه د کوټې په څنډه کې ناسته وم او لیدلی می نشول چې په تذکرې کې څوک پروت دی. تورن تریخه موسکا وکړه او له ما یې وغوښتل چې «میلمه» ته ژباړه وکړم او ووایم چې تورن په خپله پیلوټ دی او د دې پیلوټ له لیدنې خوشاله شوی دی. ومی کتل چې هلته په تذکره کې یو ځوان پیلوټ پروت دی چې سر یې ټپ لري. تورن وویل:

ـ پیغلې، لطفاً هغه ته ووایه چې بی وسلې دښمن مونږ دښمن نه شمیرو. ورته ووایه چې نوی المان کې زړورتیا ته درناوی لري، ورته ته ووایه چې غواړم ورسره شراب وڅښم...

کله چې ما دا خبرې ژباړلی، پیلوټ ما ته وکتلې. په کتنه کې داسې کرکه، انزجار او سپکاوی و چې کم پاتې و په ژړا شم.

پیلوټ ځواب ورکړ:

ـ ورته وژباړه چې زه به هیڅ څه ونه وایم او له هغه سره به شراب هم و نه څښم.

بیا یې مخ دیوال ته واړو.

تورن زیاتې خبرې وکړې. ما هم وژباړلې. خو پیلوټ همغسې مخ دیوال ته پروت او غلې و. بالاخره تورن دستور ورکړ چې پیلوټ بوځئ.

هغه شپه سره له دې چې د ستومانتیا احساس مې کاوه خو ومې نشو کړای چې بیده شم. داسې می فکر کاوه چې پیلوټ ما ته ګوري. داسې ښکاریده چې د هغه کلکټ او انګازین غږ اورم. تورن، سهار راپسې تورن راغی. په موټر کې راته وویل:

ـ موږ ته دستور راکړ شوی چې په هره بیه چې کیږی باید پوه شوو چې روسان څه کوي. موږ ته معلومه شوی چې دا پیلوټ د نوي الوتکې په اړه په ځینو شیانو پوهیږي. موږ یې باید مجبور کړو چې خبرې وکړي. آغلي پیغلې ته باید زندان ته د هغه خوا ته لاړه شئ او ورسره خبرې وکړئ. هر څه چې دې زړه کیږي ورته ووایئ، خو خبرې ته راوباسئ چې روسان د څه لپاره چمتوالی نیسي؛ که په دې کار کې بریالی شوی، مډال تر لاسه کوی.

ما له دې دستور څخه سرغړاوی نشو کولای. له پیلوټ سره دوکسیزه خبرې حتماً ګټوری وی. کولای می شول چې هغه دمخه پوه کړم. خو راته سخته وه چې خوا ته یې لاړه شم. تاسو خو پوهیږی چې دې روسي پیلوټ زما په اړه څه ډول فکر کاوه!

راته سخته وه. خو ځان مې تللو ته اړ کړ. پیلوټ له پرون څخه خوار شوی و. سترګې یې زیږې ښکاره کیدې. په کرکه او سپکاوي راته وکتلی.

د دې لپاره چې خبرې پیل کړم، و مې ویل:

ـ څنګه یاست؟ ډاکټر یې درته راوست؟

پیلوټ راته وویل:

ـ په خپله یې ونشو کړای ما خبرو ته اړ باسي، خپله سپی یې رالیږلی ده.

زه سره شوم.

ـ د څه لپاره سره کیږې، ستا غوندې کسان مجبوره نه دي چې سره شي! فکر کوئ چې له المانیانو سره ځئ او زموږ له منګولو تښتئ؟ موږ به دې خوښ شوو! په برلین کې به دې پیدا کړو.

په خندا یې پیل کړی. ومی نشو کړای ځان ونیسم. ځان مې ورته په غیږه کې ورواچاوه او په بنده بنده ژبه مې ورته وویل:

ـ هغوې په څه نه پوهیږي، غواړي د نوی ډول الوتکو په اړه له تا خبرې واخلي. هغوې ډاریږي، په وحشتناکه ډول ډاریږي، څه ورته ونه وایې، هیڅ څه.

پیلوټ راته په حیرانتیا غوږ و. بیا ما ته په موسکا شو او په چیغو یې پیل وکړ:

ـ ووڅه، پلورل شوې سپی، زه تا ته هیڅ څه هم نه وایم!

اوږدې چیغې یې ووهلی او بیا یې په آرامه وپوښتل:

ـ ته د شوروي اطلاعاتي ماموره یې؟

ـ هو!

ـ ما وژني؟

ـ هو، که څه ونه وایی.

ـ بیا نو زما ژوند لنډ دی. خواشینی یم کاش ژوندی پاتې شوی وی.

ـ غواړی خپل هیواد ته کوم پیغام ولیږي؟

ـ زه نور په تا اعتماد لرم. ستا سترګې بیخي... تقریباً. نه، پریږده، څه نه وایم. همداسې ښه ده. هم ستا لپاره، هم زما لپاره. د تل لپاره خدای په امان....

هغه بیا په اوچت غږ سپکې سپورې شروع کړی، چې المانیان څه ته متوجې نشي. کم پاتې و چې وژاړم. څه یو ستر انسان و! په رښتیا چې یو ستر انسان و!

هیڅ مرسته مې هم ورسره نشو کولای... منډو ته مې منډه کړه. تورن په منډو کې ګرځیده. په ژړا شوم.

تورن په ویرې او تښتیدلي رنګ راته وویل:

ـ مه ژاړه، ته په دنده بوخته یې. چې نور مو په کار رانشي، وژنو یې.

په یاد مې نه دي چې څنګه له زندان څخه راووتم.

انجلۍ غلې شوه. د ډېر وخت لپاره غلې وه.

ـ ډېره ستونزمنه ده چې تعریف یې کړم. خو زړه مې غواړي چې ټوله دنیا وربانديې پوه شي چې د شوروی خلکو له المانیانو سره څنګه چلند کاوه. آخر، هیڅوک، له ما پرته د دې پیلوټ د ژوند له وروستیو ګړیو خبر نلري. په زندان کې د وروستیو خبرو وروسته، ګواکې چې ټوله ورځ په خره کې په لاره تللم. بیا مې لا وحشتناکه موضوع مخې ته لرله. تاسو شاید زموږ د کارونو په هکله په ځینو شیانو پوه شئ. زه تازه کاره نه وم خو دا په آزمایښتونو کې تر ټولو ستونزمن آزمایښت و.

د هوایي ځواکونو یو جنرال راغی. هغه د فاشیستانو اتل او د ګورینګ محبوب و. تصمیم یې ونیو چې په خپله له پیلوټ څخه پلټنې وکړي. جنرال ښایسته و او دنګه ونه یې لرله. په خپله زندان ته راغی. پیلوټ ته ورغی او لاس یې وراوږد کړ. پیلوټ ورته شا راواړوله او ځواب یې ورنکړ.

ـ دا چلند دې ښه نه دی ځوانه! زه جنرال یم. د دوو جګړو قهرمان یم. ته نه پوهیږئ چې د سرتیری شرافت څه ته وایي...

دا جمله مې وژباړله.

پیلوټ په کرکه وویل:

ـ ته څنګه کولای شئ له شرافت وغږیږئ.

دا مې وژباړل. جنرال ځواب ورنکړ او بیا یې پوښتنه وکړه:

ـ ولې دومره سرتمبه یې؟ زموږ له ډاکټرانو راضي نه یې؟ را ته ووایه، دستور ورکوم هر څه ته چې اړتیا لرئ تا ته یې برابر کړي.اتل ، اتل دی ان که دښمن وي.

پیلوټ په ستومانی ځواب ورکړ:

ـ ورنه تپوس وکړه چې له ما څه غواړي؟

پیلوټ ټپي و. حتماً ډېر درد یې درلود. خو نه یې غوښتل چې دې موضوع ته د دښمنانو پام شي. د الماني جنرال حوصله نوره ختمیده.

ـ ورته ووایه، چې باید انتخاب وکړي؛ یا د نویو الوتکو په اړه اطلاعات راکړي او ډاډه دې وي چې روسان به هیڅکله د دې موضوع څرک هم ونه لګوي او د جګړې تر پای پورې به په آرامی او هوساینې ژوند وکړي، یا دا چې باید ووژل شي.

د جنرال خبرې مې وژباړلی. پیلوټ په خندا شو.

جنرال ادامه ورکړه او پیلوټ ته یې وویل:

ـ د یو سرتیري په شان راته ووایه چې روسان د شاتګ په وخت کې ولې خپل کورونه سیزي؟ هغوې مري خو ولې خپلې پټې نقشې نه ښکاره کوي، ان کله چې دښمنان یې هم بریالي کیږي.

پیلوټ ځواب ورکړ:

ـ ولې؟ د دې لپاره چې موږ د شوروی خلک یو.

د همدې سره فاشیستان ورباندې راتوي شول او ډیر سخت یې ووهو. زه یې تر څنګه ودریدلی وم. پوهیږئ! ما لیدل چې څنګه دې ځناورانو دا ټیپي خو شریف انسان، دا ښه انسان چې ما تر اوسه لیدلی و؛ وهو. ډیر مې غوښتل چې ورسره مرسته وکړم. غوښتل مې چې ورسره مړه شم. زه له مرګ نه ډاریدم، نه ډاریدم! خو په دې پوهیدم چې دا کار د ولس لپاره لازم دی، حق می نه درلوده چې ځان ښکاره کړم. که ځان مې ښکاره کړی وی زموږ ځواکونه نه پوهیدل چې فاشیستان څه ډول نقشې لري. هماغه ورځ وه چې د یوه واقعي اتلې یوازینې عمل می تر سره کړ. ځان مې ورته په غیږه کې وانچو، چیغې مې ونه وهلی. هغوې پیلوټ زما د سترګو په وړاندې وواژه. ناپیژانده پیلوټ په میړانې، زړورتیا او په غرور ووژل شو. د کوټې ور او دیوالونه له وینو ډک شوي وو. خو ما خپل ځان ښکاره نکړ او خپل کار ته مې تر هغې ادامه ورکړه چې زموږ ځواکونو بیرته «خارکف» ونیو. زه ان نه پوهیدم چې د پیلوټ نوم څه دی، او اوس هم نه پوهیږم. خو هغه هیڅکله هیرولی نشم، هغه به تل زما مخې ته وي؛ پایند، زړوور او پرتمین!

انجلۍ خپله څیره په لاسونو پټه کړه او په ژړا شوه.

تپوس مې ترې وکړ:

ـ اوس څه خیال لرئ چې څه وکړی؟

سر یې راپورته کړ. څیره یې سخته او هوډمنه ښکاریده.

ـ یو څو ورځې دمه کوم. بیا ورځم. لا جګړه پای ته نه ده رسیدلی.

ـ هلته؟ له دومره سختۍ وروسته؟

ـ هو، په هغه ورځ پیلوټ ویل چې:«موږ د شوروي خلک یو.» زه به د هغه دا خبره هیڅکله هیره نکړم.

# اوبه

د ۱۹۴۱ کال په دوبي کې فاشیستان «اودسا» ته نژدې شوي ول. له ښار څخه دفاع ډېره سخته وه، ځکه چې فاشیستانو له لویدیځ، شمال او ختیځ څخه بریدونه کول. په سویل کې هم سیند بهیده.

«اودسا» د څښلو اوبه نلرلې. د ښار اوبه له هغې ټانکۍ چې ښار ته نژدې وه، پوره کیدې او ټانکۍ هم د فاشیستانو په لاس کې وه.

دغه کال، ډېر تود کال و او بې له اوبو ژوند په سختۍ تیریده. په خپله «اودسا» کې کارګران او سرتیري د نوې ټانکۍ په جوړیدو بوخت ول. هغوې کوښښ کاوه چې ډېر ژر دا ټانکۍ جوړه شي. خو ټول پوهیدل چې ټانکۍ به له یوې اونۍ دمخه چمتو نشي. زررونو ماشومانو له تندې ژړلې او اوبه یې غوښتلې. خو اوبه نه وې. له دې امله د شوروي د پوځ جنرال، چې د «اودسا» دفاع یې په غاړه درلوده، تصمیم ونیو چې د سرتیرو یوه کوچنۍ ډله پخوانۍ ټانکۍ ته چې د فاشیستانو په لاس کې وه، ولیږي. دا ډله ښایي ټانکۍ ونیسي، ماشینونه په کار واچوي، ښار ته اوبه برابرې کړي او څو ګړۍ له فاشیستانو سره وجنګیږي څو ښار په دغه موده کې اوبه تر لاسه کړي.

شپې هغه جاله چې په کې شل سرتیري او دوه افسران ناست ول، له ساحل څخه روانه شوه. هغوې ټول داوطلبان ول. ټول ښه پوهیدل چې څه باید وکړي. او په دې پوهیدل چې د مرګ خوا ته روان دي. داوطلبان په بریالیتوب ټانکۍ سره نژدې ساحل ته ورسیدل. فاشیستان ورته متوجې نشول.



اوس باید هغه کارګران چې کولای شول ماشینونه ولګوي او اوبه راخلاصې کړي، پیدا کړي. داوطلبانو د هغو کارګرانو چې مخکې یې په ټانکۍ کې کار کاوه، د هستوګنځي څخه خبر درلوده. یو تن یې کارګرانو پسې لاړ او د ښار سخت وضعیت یې ورته تشریح کړ. د وضعیت په اوریدلو سره پنځو کارګرانو ومنله چې له داوطلبانو سره مرسته وکړي.

هغوې ټانکې ته لاړ. د ټانکې سره دوه فاشیستان ودریدلي ول. داوطلبانو د هغوې په وژنې سره ټانکې تصرف کړه. کارګرانو په چټکې ماشینونه په کار واچول. د څښنلو اوبه اودسا ته وبهیدلې او د ځمکې لاندې پیپونو کې روانې شوی. یوه ګړی وروسته فاشیستانو پر ټانکې یرغل راوړ. جګړه پیل شوه.

فاشیستان ډیر زیات ول. خو وې نشو کړای چې سملاسي ټانکې تصرف کړي. جګړه د څو ساعتونو لپاره روانه وه. فاشیستانو یوازې هغه وخت وکړای شول چې ټانکې بیا تصرف کړي چې ټول داوطلبان او کارګران وژل شوي ول.

اوبه د «اودسا» کورونو ته ورسیدلې، سطلونه ډک او د حمام بوکې یې ډکې کړی... او بیا ناڅاپه بندې شوې. او په دې ډول ښار له اوبو ډک شو او زرګونه ماشومان وژغورل شول.

# د پارتیزانانو ملګرتیا

دا پیښه د سترې هیوادنۍ جګړې پر مهال رامنځته شوه. ولادیمیر ګودف د شوروي سرتیری په جګړه کې ټپی او اسیر شو. هغه یوه موده په آلمان کې زنداني و. فاشیستانو اسیران په بیړۍ کې سپاره کړل او هغوې يې ناروی ته ویوړل. هلته هم یو زندان و. فاشیستانو همدا چې اسیران یې پنډغالي ته بوتلل، ورته يې دستور ورکړ چې د زندان په انګړ کې منډې ووهي. څو ورځې کیدې چې اسیرانو تقریباً هیڅ څه خوړلي نه وو. له منډې څه شیبه وروسته زیات زندانیان پر ځمکه ولیدل. څوک چې به پر ځمکه ولیدو په مردکي به ویشتل کیدو. کومو اسیرانو چې وکړای شول یو کیلومتر منډه ووهي، ژوندي پاتې شول. ګودُف هم د هغوې په منځ کې و.

ګودف شپې غزیدلې و او فکر يې کاوه:

ـ باید ژوندي پاتې شوو، ژوندي پاتې شوو او غچ واخلو!

فاشیستانو هره ورځ اسیران اړ ایستل چې د غره څوکي ته پورته شي. اسیرانو ښايي هلته واټ جوړ کړی وی. هرځل چې به اسیران له کلي تیریدل، د سیمې خلکو به کوښښ کاوه چې هغوې ته په پټه ډوډۍ ورکړي.

نارویجي ګارګرانو هم د واټ جوړولو لپاره کار کاوه. ډیرې يې کمونیستان ول. یوه ورځ یو کارګر ګودف ته په پټه اره ورکړه او وې ویل:

ـ فاشیستان سبا تاسو په اورګاډي کې بل ځای ته بیايي. دا اره ده. کوښښ وکړه چې د اورګاډي د ډبې دیوال اره کړی، د ډبې په منځ کې سوری جوړ کړی او ځنګل ته وتښتې. پارتیزانان له دې خبر دي او تا پسې به ځنګل ته راشي.

فاشیستانو، غرمې اسیران په اورګاډي کې سپاره کړل. ګودف محرمانه خپلو دوستانو ته وویل چې غواړي وتښتي او له نورو اسیرانو سره مرسته وکړي.

پریکړه وشوه چې څلور نور جنګیالي له هغه سره وتښتي. شپې، ګودف د ډبې په دیوال کې سوری وکړ.کله چې اورګاډی د غرنۍ لارې ورو ورو تیریده، ګودف او څلورو نورو ملګرو يې له ډبې نه بهر ودانګلی. څو شیبې وروسته هغوې ټول په ځنګل کې ول.

پوره شپږ ورځې په ځنګله کې پټ ول او نارویجي پارتیزانان ورپسې ګرځیدل. پارتیزانانو بالاخره هغوې پیدا کړل. نارویجیان او روسان له یوبل سره اوږه په اوږه په یوې پارتیزاني ډله کې د المانیانو په وړاندې په جګړه بوخت شول. یوه ورځ د پارتیزانانو د ډلې قوماندان، «ګودف» راوغوښت او دستور يې ورکړ:

ـ تاسو باید د تیلو زیرمې له منځه ویسئ. ته او «برسن» باید دا کار وکړی. هغه په روسی ژبه پوهیږي. ګودف او برسن له غرنۍ لارې لاړل. بالاخره کلي ته نژدې شول. د تیلو زیرمې چې باید ویجاړه شوی وی، په همدې کلي کې وی.هغوې په ځنګل کې کلي ته نژدې پټ شول.

ګودف د شپې لخوا د ځمکې د اکتشاف لپاره لاړ او برسن په ځنګله کې پاتې شو. ګودف په پټه زیرمې ته نژدې شو او په څارنې يې بوخت شو. د زیرمې د احاطې د دروازې تر څنګ یوازې یو ساتونکی ودریدلی و. د تیلو پوځي ټانکرونه شیبه په شیبه زیرمې ته رانژدې کیدلې. ساتونکي ور خلاصو او بیرته يې تړو. د ګودف پام شو چې ساتونکی د موټرونو سندونه نه ګوري.

ګودف د خپل ملګري خوا ته راستون شو او څه چې يې لیدلي وو هغه ته يې وویل. هغوې د برید نقشه جوړه کړه. له دې وروسته ګودف او برسن واټ ته نژدې پټ شول، هغوې داسې ګاډي ته په انتظار کې ول چې یوازې  په کې ډریور وي. بالاخره داسې

ګاډی راورسید او لکه چې  د دوې له څنګه تیریده، برسن دننه ګاډي ته ورودانګلی او په یوې ضربې یې چلونکی وواژه. بیا دواړه پارتیزانان په ګاډي کې کښېنستل او د زیرمې لورې ته روان شول. کله چې زیرمې ته روسیدل، ساتونکي دروازه خلاصه کړه او ګاډی د زیرمې احاطې ته وننوت. ګودف او برسن له ګاډی راکښته شول و د تیلو زیرمو ته یې څو نارنجکه واچول. د غټې چاودنې غږ پورته شو. د تیلو زیرمه ویجاړه شوی وه، پارتیزانان بیرته ګاډي کې کښېنستل او د ستیندو لاره یې ونیوله.

شیبه وروسته، ګودف یو ګاډی ولید چې د هغوې شا ته را روان دی او فاشیستان په کې ناست دي. فاشیستانو په ډزو پیل کړی. د هغوې ګاډی د پارتیزانانو له ګاډي ګړندی و.ګودف، برسن ته وویل:

ـ ګړندئ شه! فاشیستان موږ ته رانژدې کیږي. برسن ځواب ورکړ:

ـ موږ نشو کولای له دې تیز حرکت وکړو!

فاشیستانو ډزې کولې. برسن ټپي شو، خو لا یې ګاډی چلوو. شیبه وروسته فاشیستان بیخې هغوې ته نژدې شول. ګودف وړاندیز وکړ:

ـ باید ګاډی خوشی کړو او ځنګل ته منډې کړو.



برسن وویل:

ـ زه منډه وهلی نشم، ټپی شوی یم. ته یوازې لاړ شه. زه همداسې ګاډی چلوم.

ګودف فکر وکړ:

ـ «څه باید وکړم؟ څنګه باید خپل هم جنګیال وژغورم؟»

او ناڅاپه یې ښه فکر وکړ، برسن ته یې وویل:

ـ هر کله چې د چاودنې غږ دې واورید، ګاړی ودروه.

ګودف له ګاړي څخه ودانګلی، د یوې غټې ډبرې شاته چې د واټ تر څنګ پراته وه، پټ شو او فاشیستانو ته منتظر پاتې شو. کله چې د فاشیستانو ګاړی بیخي رانژدې شو، ګودف د هغې لورې ته درې نارنجکه ګوځار کړل. د فاشیستانو ګاړی نابود شو.

برسن چې د چاودنې غږ واورید ګاړی یې ودرو. ګودف ګاړي ته منډه کړه او د برسن تر څنګ کېنیناست. ګاړي حرکت وکړ، دوه کیلومتره وروسته یې ګاړی ودرو او دوو جنګیالیو د غرونو لاره ونیوله. لا څو متره تللي نه و چې برسن پر ځمکه ولید. هغه نور نشو تللی. ګودف په شا کړ او خپله لاره یې ونیوله. له دوو ورځو وروسته، هغوې د خپلې ډلې سره یوځای شول.

نارویجیانو او روسانو د جګړې تر پایې پورې له یو بل سره اوږه په اوږه جنګیدل. جګړه پای ته ورسیده.ګودف خپل هیواد ته راستون شو. پارتیزانان هغه ته د هرکلي ویلو لپاره بندر ته راغلل.

کلونه تیر شول. خو نارویجیانو ګودف هیر نکړ. هغوې یو بل ته اکثراً د ملګرتیا او له مینې ډک لیکونه لیږل.

## سختګیره ښوونکی

دا پیښه د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال په قفقاز کې تر سره شوه. زه په ۱۹۴۲ کال کې جبهې ته لاړم. ۱۸ کلن وم. قوماندان مو سختګیره او قهرجن سړی و. هغه په کراتو راته ویل چې زه یو بد سرتیری یم. په رښتیا هم هغه وخت، لا یو بد سرتیری وم. خو د قوماندان خبرې راباندې بدې لګیدی او راته ګران نه و. یوه ورځ قوماندان له ما وپوښتلې:

ـ ته ډیپلوم لرئ؟

ـ هو.

ـ کوم مضمون دې خوښیدو؟

ـ ریاضي.

قوماندان وویل:

ـ ما د جګړې دمخه د ریاضي درس ورکو.

ـ زما ریاضي ډیره خوښیږي.

موږ د ریاضیاتو په اړه خبرې اترې پیل کړې. له دې وروسته موږ اکثراً د ریاضیاتو په اړه خبرې کولی او کله به مو په دې اړه بحص هم کاوه.



یوه شپه قوماندان د دښمن د مورچل، چې د سیند هغه غاړې ته و، د نابودولو دستور تر لاسه کړ. موږ په لامبو له سیند څخه تیر شو. پنځه کس وو. زما دوو ملګرو کوښښ وکړ چې مورچل ته نژدې شي، خو ووژل شو. قوماندان وویل:

ـ نور نشم کولای تاسو وژلو ته ورکړم. درې فشنګونه په دې خولې کې ږدم. دوه فشنګونه تش دي. خو یو یې ډک دی. هر چا چې ډک فیشنګ راواخیست باید د دښمن مورچل نابود کړي. موږ درې فشنګونه په خولې کې واچول. ملګري مې یو فشنګ له خولې

راواخیست، خو فشنګ ډک نه و. اوس د قوماندان وار و. هغه له خولې یو فشنګ راواخیست، ورته ته یې وکتلې او بیا یې اوبو ته واچو. قوماندان ورو وویل:

ـ فشنګ ډک دی. زه باید مورچل له منځه ویسم. په خولې کې لا یوه فشنګ پاتې و، زما فشنګ. خو قوماندان هغه راواخیست او ژر یې د یوې ډبرې لاندې کیښود. هغه وخت ما دې موضوع ته دومره پام ونکړ.

قوماندان درې نارنجکه راواخیستل او د مورچل لورې ته روان شو. فاشیستانو په ډزو پیل کړی. خو قوماندان د مورچل په نابودولو کې بریالی شو. وروسته له دې، زموږ سرتیري چې د سیند په بلې څنډه کې ول بی ځنډه ، په پرمختګ پیل وکړ. موږ له نورو ملګرو سره د مورچل خوا ته منډې کړی. د نابود شوي مورچل تر څنګ، قوماندان ولیدلی و. هغه وژل شوی و.

کلونه تیر شول. زه د ریاضي ښوونکی شوم او د تدریس لپاره هماغه ځای ته لاړم چې یو وخت په کې جنګیدلی وم. یوه ورځ د زده کوونکو سره د ګروپی چکر لپاره غره ته لاړو. غرمې، د سیند په څنډه کې ځنډ شوو. زده کوونکو د اور لګولو لپاره د لرګیو راټولول پیل کړل. هغوې ناڅاپه د بوټو په منځ کې یو زوړ او ویجاړ ګاړی ولید. ښکاره ده چې دا ګاړی د جګړې له وخته هلته پاتی شوی و. هلکانو د موټر د لټولو وروسته، د څرمنې یوه کڅوړه پیدا کړه. پر کڅوړې ۱۸۲۲ ګڼه تر سترګو کیده، په کڅوړې کې لیکونه وو. کله چې هلکانو دا کڅوړه ماته راوړه، ډیر مې ورته پام واوښت: ۱۸۲۲ زموږ د قرارګاه شمیره وه! زده کوونکو ته مې وویل:

ـ هلکانو، دا د جبهې لیکونه دي. زه دلته جنګیدلی یم. داسې ښکاري چې دا لیکونه ۱۵ کاله کیږي چې دلته پراته دي!

د لیکونو په کتلو بوخت شوو، ناڅاپي سترګې مې په هغه لیک ولیدې چې ورباندې زما د مور پته لیکل شوی وه! لیک مې ولوست. زما قوماندان لیکلي وو:

«ګرانه ښاغلیه میخایلوونا! دا لیک ستا د زوي قوماندان تا ته درلیږي. زه ښوونکی یم او د هر ښوونکي په شان یو ګران زده کوونکی لرم. زما ګران زده کوونکی ستا زوي دی. هغه فوق العاده په ریاضي پوهیږي او فکر کوم چې هغه به پوهنې ته ډیر خدمت وکړي.»

لیک مې څو کرتې ولوست. ټوله شپه خوب نه راتلو. سهار بیا هماغه ځای ته لاړم چې قوماندان په کې وژل شوی و. ټول هغه څه چې په هغه غرمه تیر شوي وو، راپه یاد مې کړل.

ناڅاپه په دې فکر شوم: «ولې قوماندان زما فشنګ د تیرې لاندې کیښود؟» هغه تیره مې پیدا کړه او فشنګ می راواخیست... فشنګ ډک و! زما فشنګ ډک و! هغه وخت په ټولو شیانو پوه شوم....

## د مور اتلوالي

ستره هيوادنۍ جګړه روانه ده. د شوروي پوځ د «اودسا» ښار ته نژدې جنګيده. د سرتيرو ميندی، خويندې او ميرمنې به اکثراً له ښار څخه د هغوی ليدنې ته راتلل. هغوی له ځان سره کباب، انګور او شيدې راوړلی.

ميرمنې د هملايتي قوماندان په دفتر کې په تمه پاتې کيدی او انتظار يې ويست. سرتيرِي دستي د هغوی د راتګ څخه خبريدل او نيمه ګړی چې به تيريده، وريت کباب او انګور به ټول خوړل شوي و.

يوه ميرمن چې دنګه ونه او زيړې او تورې سترګې درلودی، اکثراً به د سرتيرو خوا ته راتلله. سرتيري پوهيدل چې دا ميرمن کب نيونکی ده او د سيند په څنډې کې ژوند کوي. خاوند يې په يوه توپاني ورځ کې په سيند کې ډوب شوی و. او يوازينې زوی يې «الکساندر پتلين» د هغوی د ډلې سرتيری و... د دې ميرمن نوم «ماريا واسيليونا» و. هغه ښه ښځه وه. سرتيرو ته ګرانه وه او په ډيری سادګی سره يې ورته د «مور» غږ کاوه. کله به چې «مور» رارسيدله له ټولو لومړی به يې پوښتل:

ـ حال يې څنګه دی؟

ټول پوهيدل چې مور د خپل زوي په اړه پوښتنه کوي. ځواب به يې ورکو:

ـ ژوندی دی موری، ژوندی دی.

مور به په موسکا شوه. سرتيرو به له هغې د ښار په اړه او د هغې د خپلوانو په اړه پوښتنې کولی. ماريا واسيليونا به تل له ځان سره ښادي او آرامتيا راوړله. مور به د خپل زوی تر څنګ کښيناسته او دوه کسي به په خبرو بوختيدل. کله به الکساندر ګيتار غږاوه او سندرې به يې ويلی. مينه ناک او تود غږ يې درلود. سرتيرو به د هغه آواز ته غوږ ايښودو او د خپلو کورنيو، سيند او د خپلو شازدګيو ښار، «اودسا» په ياد به وليدل... هو، اکتشافي سرتيري الکساندر ، ښه آواز درلود، الکساندر يو واقعي انسان و او ملګرو ورته درناوی درلود. الکساندر د خپلې مور په شان و. د هغې په شان دنګه اونه يې درلوده او لاسونه يې د کب نيونکي په شان پياوړي او ځواکمن ول.



يوه ورځ دوه دوستان يعنی «الکساندر پتلين» او «ميخائيل استريلکف» د اکتشاف لپاره لاړل. ميخائيل يو آرام او غلې سړی و. هغوی ښايي د شپې له دوو بجو وروسته راستانه شوی وی. خو دوه، دری، څلور ساعته تير شول.... شپه پای ته ورسيده، خو اکتشافي ډله

راستانه نشوه. سرتيري د هغوې راستنيدو ته په تمه او سترګې په لاره ول. خو د راستنيدنې هيڅ څرک نه لګيده. ناڅاپه د چاودنې غبړ واوريدل شو. بيا ډزې وشوى او بيا د چاودنې غبړ واوريدل شو. او بيا آرامتيا واکمنه شوه. يو تن سرتيري وويل:

ـ مين وچاوديد...

بل ځواب ورکړ:

ـ شايد هم نارنجک وي...

ـ امکان لري چې مکتشفين له کومې پيښې سره مخامخ شوي وي؟

قوماندان وويل:

ـ صبر کوو چې رڼا شي. بيا به وګورو.

لږه شيبه وروسته رڼا شوه. ناڅاپه يو سرتيري چيغه کړه:

ـ ملګری قوماندان! وګوری. وګوری. هغه هلته غزيدلی دی.

په ورشو کې، د شورويانو او فاشيستانو د مورچلونو تر منځ، يو سړی پر مځکه غزيدلی و.

ـ هو، احتمالاً چې په خپله دی.

ـ څوک؟

ـ استريلکف. داسې ښکاري چې وژل شوی وي.

ـ نو الکساندر چيری دی؟

قوماندان په د دوربين کې وکتلې:

ـ نه يې وينم.

ناڅاپه د قوماندان سترګې په الکساندر ولګيدلی. هغه ورو ورو د شوروي مورچلونو په لور خوزيده. يوه شيبه يې ځنډ وکړ. بيا يې خپل لاس پورته کړ او بيرته يې راکښته کړ او بيا يې پورته کړ. سرتيري د هغه علامت ته متوجې شول.

ـ کمک غواړي!

سرتيرو غوښتل ورمنډې کړي، خو قوماندان چيغه کړه:

ـ چيرې؟ ودريږئ! اجازه نه درکوم چې ورشئ.

ـ ملګری قوماندانه! ګورئ چې ملګري مو هلته دي!

قوماندان ځواب ورنکړ. بيا يې چيغه کړه:

ـ الکساندر! ساشا! څملئ! حرکت مه کوئ! وژل کیږئ!

په دې وخت کې دښمنانو بیا ډزې پیل کړې. سرتیري پوه شول چې قوماندان په حقه و، که د هغوې مرستې لپاره تللی وی، وژل کیدل. یو تن سرتیري وویل:

ـ هغوې وژل کیږي! ګوری چې ټپی شوي دي...

چوپتیا واکمنه شوه. ناڅاپه ټولو یو ښځینه آواز واورید:

ـ پریږدی چې زه لاړه شم!... تا ته وایم چې پریږده زه لاړه شم!

دا ماریا واسیلیونا وه. نه پوهیدو چې څنګه یې ځان دلته، مورچل ته رارسولی و. قوماندان ورته اجازه نه ورکوله او ورته یې وویل:

ـ امکان نلري مورې، تا وژني!

خو ماریا واسیلیونا په دې خبرو غوږ نه ګرو. هغه له مورچل ووتله او په دنګه ونې سره هغه سیمې ته چې زوي یې په کې پروت و، روانه شوه. سرتیري منتظر ول چې څه به وشي. دښمنانو  د دې ښځې په لیدو سره چې په زړورتیا یې د مردکیو هرکلی کاوه، له ډزو لاس په سر شول. د هغوې لپاره هم حیرانونکی وه. خو ماریا واسیلیونا د تل په شان کلکه او آرامه په لاره تلله. هغه همداسې مخ ته تلله. زوي ته نژدې شوه هغه ته یې اوبه ورکړې.

ـ زویه اوڅښه... آراموي دې.

دښمنانو له سره ډزې شروع کړې. ساشا وپوښتلې:

ـ میخائیل څنګه دی؟... ژوندی دی؟

ـ هو، ژوندی دی. هغه خوا پروت دی.

ډزو ادامه درلوده. خو ماریا واسیلیونا ډزو ته هیڅ پام ونه اړوه. مور خپل زوي ته وویل:

ـ همدلته آرامه وغزیږه. مردکي تا ته نه رارسیږي. زه د میخائیل خوا ته ځم. هغه هم تږې دی.ګرانه زویه اورئ چې څه درته وایم؟

ـ هو مورې! څه....

ډزې لا سختې شوی. مور په اوچت آواز وویل:

ـ خدای پامان

او د میخائیل خوا ته روانه شوه. میخائیل ته نژدې شوه او ودریده. بیا ها خوا ته، چیرې چې ښار لیده کیده وکتلې... هغه «اودسا»... مور د میخائیل تر څنګ پر ځمکه وغزیدله. سرتیرو له یو بل تپوس کاوه:

ـ څه کوي!؟

دښمنانو ډزو ته ادامه ورکړه. خو دا ځل مردکي بيخي د مور او ميخائيل تر څنګ تيريدل. فاشيستانو پر هغه ځای ډزې کولی چې ماريا واسيليونا په کې غزيدلې وه. مور بی حرکته پراته وه. اوس سرتيري پوهيدل چې مور ولې هلته غزيدلې ده. هغه غزيدلې وه چې د خپلې ټولې تنې سره له سرتيري ساتنه وکړي. سرتيری د هغه خپل زوي نه و، خو هغې ټول سرتيري خپل زامن ګڼل. مور له مرګ نه ډاريده ځکه د مور مينه له مرګ پياوړې ده.

شپې، سرتيرو، مور او دوه ټپي مکتشفين، الکساندر او ميخائيل مورچلونو ته راوستل. د ماريا واسيليونا بدن په مردکيو سوری سوری شوی و. سرتيرو، مور اودسا ته نژدې ورشو کې ښخه کړه.

که کله ستاسو د ادوسا نژدې ورشو ته مخه شوه او هلته مو يو وړکی قبر وليد، لږ ځنډ شی، شايد دا قبر د ماريا واسيليونا وي!

## پُستي کڅوړه

د جګړې په ورځو، نوميالي مخترع، د مکانيک انجنير «فيودور پاولويچ کيروشين» په لنينګراد کې ژوند کاوه او په يوې کوچنۍ کارخانې کې کار کاوه. د جګړې په پيل کې غوښتل دا کارخانه سيبري ته ولېږدوي. خو بيا يې پرېکړه وکړه کارخانه په لنينګراد کې پاتې شي. ځکه چې د کارخانې محصولات د جبهې لپاره لازم وو. او جبهه هم هماغه شاوخوا وه.

لنينګراد د جګړې د هماغه پيل څخه د الماني ځواکونو په کلابندۍ کې راغی خو د لنينګراد هستوګنو په مېړانې له خپل ښار څخه دفاع کوله. د لنينګراد کلابندي ۹۰۰ ورځ دوام وموند. د ښار د برېښنا پستونو کار نه کاوه. برېښنا او اوبه نه وې. کورونه هم ساړه او کنګل وهلي ول. په لنينګراد کې د خلکو خوراکي توکي خلاص شول او قات شروع شو. د شوروي ولسونو د خپل توان سره سم د لنينګراد له خلکو سره مرسته کوله. په ژمي کې د خوراکي توکو موټرونه د لادوژسکي سيندګي پر کنګل تيريدل. خو المانيانو تل سيندګی بمباروه. د همدې لپاره ښار ته د خوراکي توکو لېږدول ستونزمن وو.



د ۱۹۴۱ ـ ۱۹۴۲ کال په ژمي کې انجنير کيروشين د لنينګراد د نورو هستوګنو په شان ولږه او يخني زغمله، خو ستونزو ته د پام کولو پرته،خپل کار ته چې د هيواد لپاره يې لازم و، ادامه ورکوله.

يوه شپه، يوه بجه، له پست څخه يې کيروشين ته تلفون وکړ:

ـ ملګرى کيروشين! د تا لپاره يې له مسکو څخه يوه کڅوړه خوراکي توکي راستولي دي، راشئ او خپله کڅوړه مو تر لاسه کړئ.

يوه ګړۍ وروسته کيروشين په خپل کور کې کڅوړه خلاصه کړه. په کڅوړه کې دا شيان وو: د تور سوخاري وړو ډوډۍ، دوه کيلو کوچ، دوه کيلو بوره، بلغور، څو قوطي غليظ شوى شيدى او ۳۰ بستې ښه خوړه. کيروشين د څه وخت لپاره کڅوړه د ليک موندلو لپاره ولټوله، خو په کڅوړه کې يې ليک پيدا نکړ. کيروشين ګمان وکړ چې دا کڅوړه ورته کوم دوست يې استولى ده. هغه په مسکو کې ډير دوستان درلودل. کيروشين ژر فکر وکړ:

ـ دا ټول زما لپاره ډير دي.ځه، څه خبره نه ده، يو څه به يې له نورو دوستانو سره وويشم. او لومړنى کس چې ذهن ته يې راغى مور يې وه. رښتيا هغه چيرى ده؟ بوډۍ مور يې «واروتژ» ښار ته د خپلوانو څنګ ته لېږدول شوى وه. کيروشين تر اوسه پورې، يوازې يو

لیک له خپلې مور تر لاسه کړی و. مور یې حتماً په ښه شرایطو کې ژوند کاوه، خو خور یې په څه حال کې وه؟ د کیروشین خور تر جګړې مخکې د لنینګراد په انستیتوت کې انګریزي ژبه تدریسوله. د جګړې پر مهال هغه د انستیتوت سره غازان ته لیږدول شوی وه. ۴ کلنه لور تانچکا هم ورسره وه. خاوند یې د جګړې په لومړنیو ورځو کې جبهې ته تللی و. خورې یې دې خوراکي توکو ته اړتیا لري. کیروشین تابیه وکړه چې له پیلوټ وغواړي چې دا کڅوړه د هغه خور ته په زاغان کې ورسوي. کښیناست او خپل خور ته یې خط ولیک:

«سلام ګرانې آنا! په مسکو کې دوستانو مې زه یاد کړی یم او راته یې یوه کڅوړه خوراکي توکي رالیږلي دي. ما پریکړه وکړه چې هغه له تا سره وویشم. یوه برخه یې تا او تانچکا ته درلیږم. غوښتل مې ډیر درولیږم، خو ته په خپله پوهیږئ چې پیلوټان غټې کڅوړې نه قبلوي ځکه چې ډیر کسان غواړي خپلې کڅوړې ولیږي. له همدې امله یو کیلو کوچ او ۲۷ بستې خوږه درته مې ولیږل. موږ په لنینګراد کې کلابند یو او بمباریږو. ما داسې یو څه اختراع کړي دي چې د فاشیستانو ډیر بد راځي. د دې اختراع سره دننه په یو کال کې دولت دوه میلیونه روبله سمپول شي. اوس هم یو څه زما له ژوند او له لنینګراد څخه واوره....

لیک ډیر اوږد و. کیروشین لیک له کڅوړې سره د پوځ قرارګاه ته ویوړ او آشنا تورن ته یې ورکړ. تورن له کروشین څخه لیک او کڅوړه واخیستله او وې ویل:

ـ ډیر ښه، ټول شیان به سم کړم. په دوو ورځو کې الوتکه زاغان ته ځي، ستا امانتی کڅوړه به واستوم.

لا یوهدموده تیره شوی نه وه چې په زاغان کې د کیروشین د خور د کوچنی کور ور وټکول شو. تانچکا لا بیده وه. آناپاولوونا نوې له خوبه پاڅیدلې وه. هغه په بیړه ور ته راغله او ور یې خلاص کړ. ځوان پیلوټ کوټې ته راننوت او سلام او سترې مه شی خواری مه شي یې وکړی.

ـ وبخښئ، که تیرووتنه مې نه وي کړي، تاسو آناپاولووناریا بینیا یاست؟

آناپاولوونا ځواب ورکړ:

ـ هو، په خپله یم.

پیلوټ وویل:

ـ ښه، داسې ښکاري چې تیر وتی نه یم. ما له لنینګراد نه تاسو ته یوه کڅوړه راوړلی ده. ځوان یوه کوچنی کڅوړه له خپل لاسي بکس څخه راوویستله. پر کڅوړې لیکل شوي وو:«د آناپاولووناریا بینا لپاره.»

آناپاولوونا تپوس وکړ:

ـ که مهرباني وکړی راته ووایئ چې دا کڅوړه د چا لخوا راستول شوی ده؟

ـ نشم ویلی، یعنې نه پوهیږم.

ـ دا کڅوړه تاسو ته چا درکړه؟ شاید ورور مې، انجنیر کیروشین؟

ـ دا کڅوړه د پوځ په قرارګاه کې یو سرګرد ما ته راکړه.

ـ سمه ده، شاید په کڅوړه کې لیک وي؟

ـ په خپله کڅوړه خلاصه کړئ او وې ګورئ، شاید دننه یې کوم لیک وي.

آناپاولوونا کڅوړه خلاصه کړه خو کوم لیک په کې نه و. پیلوټ وویل:

ـ احتمالاً چې لیک به درته راستول شوی دی خو زموږ د الوتکې ماشین ناڅاپي په لاره کې خراب شو. مجبوره شوو چې په هوایي ډګر کې راکښته شوو چې ماشین یې جوړ کړو. ناچاره مو ځینې شیان د لیکونو د بکس په ګډون د الوتکې له ډیګې راوویستل او په هوایي ډګر کې مو پرېښودل. ما تلګراف کړی چې لیکونه دلته راولیږي. د پیلوټ له تللو وروسته آناپاولوونا د ډیر وخت لپاره په فکر کې ډوبه شوه چې: «دا کڅوړه ورته چا رالیږلی ده؟» اول یې فکر وکړ چې ورور یې، انجنیر کیروشین راستولی ده خو آناپاولوونا پوهیده چې په لنینګراد کې قات دی او احتمالاً چې  ورور یې له کارخانې سره سیبري ته لیږدول شوی وي او نور په لنینګراد کې نه وي. آناپاوولونا د خپل ورور وروستی لیک دوه میاشتې وړاندې تر لاسه کړی و. له همدې لپاره نه پوهیده چې ورور یې په لنینګراد کې پاتی شوی دی.

آناپاولوونا یوځلي د خپل هغه دوست په یاد ولیده چې په سیبري کې ژوند کاوه. فکر یې وکړ چې دا کڅوړه هغه رالیږلی ده. آناپاولوونا د دې ډالی په تر لاسه کولو ډیره خوشاله شوی وه، له ځان سره یې فکر وکړ:«هو، په دې دنیا کې مهربان خلک شته، دا فکر څومره ښه او زړه پورې دی چې داسې زړه سواندي او خیر غوښتونکي خلک شته دی. هغه خلک چې تل نورو ته د کمک لپاره چمتو دي او تل د خپلو دوستانو په یاد دي.»

آناپاولوونا په خپله هم یوه مهربانه او خیرغوښتونکی میرمن وه. هغې ته یې مور تر ټولو نژدې او ګرانه وه. هغه تل د خپل مور په فکر کې وه. آناپاولوونا پریکړه وکړه چې خوږه خپل مور ته ولیږي.

۱۰ ورځې وروسته آشنا پیلوټ راغی او آناپاولوونا له هغه هیله وکړه چې د خوږې بسته یې مور ته ورکړي. آناپاولوونا د خوږې درې بستې ځان او تانچکا لپاره یوې خوا ته کړی او پاتې ۲۴ بستې یې په یوه امانتي کڅوړه کې کیښودې او پیلوټ ته یې ورکړی.

غرمې، پیلوټ د آناپاولوونا د مور د هستوګنې ښار ته الوتنه وکړه. بوډۍ ته چې ناستاسیاپروخوروونا نومیدله له پیلوټ څخه یې تودهرکلی وکړ او د بستې د راوړلو لپاره مننه وکړه. پیلوټ یې تر خپل څنګ کښینو او د خپلې لور په اړه یې ترې پوښتنې پیل کړی، پیلوټ ورته وویل چې د لور، آناپاولوونا ژوند په غازان کې بد نه دی خود خپل ورور فیودور یاولویچ په اړه ډیره اندیښنه لري. ځکه چې نه پوهیږي هغه اوس چیری دی. آناپاولوونا فکر کوي چې ورور یې سیبري ته لیږدول شوی دی. بوډۍ چې په ځیرتیا د پیلوټ خبرو ته غوږ وه، وې ویل:

ـ نه، فیودور یاولوویچ په لنینګراد کې ژوندکوي. ما هم اول فکر کاوه چې هغه سیبري ته لیږدول شوی دی. خو درې ورځې مخکې یو بوډا کارګر له لنینګراد څخه دلته راغی. هغه زما له زوي سره په یوې کارخانې کې کار کوي. بوډا راته وویل چې زوي مې لا په لنینګراد کې کار کوي.

پیلوټ له بوډۍ خداپاماني واخیسته او لاړ. ناستاسیاپروخوروونا پوهیده چې فیودور یاولوویچ په لنینګراد کې په سختۍ ژوند کوي او ولږه کاږي. مور هم پریکړه وکړه چې خوږه هغه ته ولیږي. بوډا کارګر ښایي تر یوې اونی پورې لنینګراد ته ستون شي. بوډۍ تصمیم ونیو له هغه هیله وکړي چې خوږه د هغې زوي ته ویسي.

بوډۍ خپل زوي ته یو لیک ولیک:

«ګرانه فیودور سلام، زه پوهیږم چې اوس سخت وضعیت لری. په دې وروستیو کې آنا راته خوږه رالیږلی ده. خو خوږه زما د بوډۍ په کار نه راځي. دا بسته تا ته درلیږم. په ځان دې پام کاوه، ته لا ډیر کلونه مخې ته لری، زما په هکله اندیښنه مه کوه....»

لیک بشپړ و. څو ورځې تیرې شوی. یوه ورځ لس دقیقې د کار پیلیدو ته پاتې وی چې بوډا کارګر چې لنینګراد ته راستون شوی و د فیودوریاولوویچ کیروشین کوټې ته راغی او د مور لیک او بسته یې د هغه په میز کیښنودل. فیودور بسته خلاصه کړه او په حیرانتیا یې وویل:

ـ خوږه؟! هو، دا خو زما خپله خوږه ده!

کله چې هغه کارګر ته وویل چې څنګه یې خوږه له هغه څخه خور ته او له خور څخه یې مور ته او له مور څخه یې بیرته هغه ته رارسیدلې ده، کارګر په حیرانتیا وویل:

ـ عجیبه ده، کنه! دا حیرانونکی ده چې ان په داسې سختو ورځو کې خلک یوبل نه هیروي.

**پای**

## "سیند خپرندویه" خپاره کړي دي:

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ

۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قربانی، ژباړه: مرینه سحر

۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ

۴.یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام ـ سپیڅلی

۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ

۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار

۷. لیوهولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ

۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک

۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ

۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۱.کوراوغلو او ګنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۲. د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۳–زما ګیتار! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۴ ـ مخکښ شهید، لوچیاین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۵– ډیر ترویج، ډیر تبلیغ. ای . میشتر، ژباړه: ولي

۱۶ – د ویتنام حماسه، د امریکې رسوایي، م. بنیامین، ژباړه: سرمد

۱۷– ولادیمیر ایلیچ لنین، نادژدا کروپسکایا، ژباړه: ولي

۱۸ ـ آواز (جوئن بایز ـ تیکن جا فاکلی ـ باب مارلی)، فرهاد ویاړ

۱۹ ـ د لیبرالیزم ضد مبارزه، مائوتسه دون، ژباړه: سرمد

## خپریږي:

# د تضاد په اړه – مائوتسه دون، ژباړه: ولي

# دا داستانونه د فاشیزم د وینې څښوونکي دیو په وړاندې د شوروي ولسونو د اتلوالۍ بیلګې ښکاره کوي

سپینډ
څپرندویه

١٣٩١